هاري واشنګټن 25/11/2008

# روسی جنرال او د امریکا مداخله

د لاس انجلس ټایمز اخبار د نومبر پر ۲۳ د یوه متقاعد روسي جنرال سره د افغانستان د جنګ او اوسني حالاتو په باب یوه جالبه او جامع مرکه کړېده. ګرده مرکه د روسي جنرال پر هغو تجربو را څرخي چي د افغانستان د جنګونو په دوران کي یې تر لاسه کړي دي. ٥٤ کلن متقاعد جنرال رسلان اشیوف وایي په افغانستان کي امریکایي عسکر د شوروي عسکرو په شان پخواني اشتباهات بیا تکراروي. ښاغلی رسلان د یوې تېرې تاریخي کسيي او تجربې په باب خبري کوي. د هغه تبصرې او مشاهدات تېره او ګټور دي. هغه پنځه کاله په افغانستان کي جنګېدلی دی. ښاغلی رسلان په افغانستان کي تېي سو، او د شوروي اتحاد هېرو او اتل ونومول سو. جنرال رسلان اوس د افغان د جنګ د متقاعدو عسکرو د کمېټې ریس دی. ښاغلي رسلان په مسکو کي ددې مرکي په جریان کي د افغانستان د ۱۹۸۰ د کلونو د جنګونو، خاطرو، د عبرت درسونو، او په افغانستان کي د شوروي او امریکا د مداخلو او جنګونو په باب خبري کوي. مرکه کامله ترجمه سوې ده، او سبب دا دی چي نهایت ژوره او په زړه پوري ده.

پوښتنه: ایا امریکایانو د افغانستان په اشغال کي د شوروي له تجربې څخه ګټه اخیستي ده او کنه؟ ایا تاسي په افغانستان کي د خپلو تجربو او ماتي په ارتباط کوم خاص د عبرت درس یادولای سي؟

رسلان: زه تاسو ته ویلاي سم چي کوم اشتباهات موږ وکړل، او کومي خطاوي تاسو وکړې. په هر صورت، اشتباهات او خطاوي مو یو ډول دي. موږ یو کمزوری مشر، ببرګ کارمل، نصب کړ. هغه په افغانانو کي هیڅ حیثیت او اعتباره نه درلود. نن ورځ، د افغانستان مشران د افغانانو په مینځ کي هیڅ محبوبیت او ملاتړ نلري. د ببرګ کارمل په اړه افغانانو ویل چي پرته له روسي ټانکونو او برچو څخه یوه ورځ هم حکومت نه سي کولای.

موږ افغانانو ته وویل: "ګورئ، تاسو مجبوره یاست چي د شوروي کلتور او ژوند سره سم ژوند وکړئ. د شوروي په نظام کي، دین او دولت سره جلا دي، ملایان باید پسي واخیستل سي، او بالاخره مذهب د پرګنو لپاره د تریاکو په شان تاوان لري. تاسو به په جمعي او سوسیالستي فارمونو کي ژوند کوئ. تاسو به د ځوانانو د سازمانونو او کارګري اتحادیو په شمول نوري سوسیالستي ډلي هم جوړوئ. موږ په یوه داسي ملک کي د شوروي ژوند او ثقافت غوښت چي همدا اوس د وسطي پېړیو په تور طلسم کي راایسار دی.

اوس به راسو تاسو ته. تاسو څه ویاست؟ تاسو ورته وایاست: "اې، افغانانو موږ تاسو ته دیموکراسي درکوو. " افغانان لا تر اوسه پوري ددغي کلمي درسته ترجمه نلري. د شورویان په دوران کي اداري فساد ډېر وو، اوس هم رشوت او بډي زیاتي دي. نه زموږ او نه هم ستاسو په دوران کي، عادي افغانانو ته کمه خاصه ګټه رسېدلي ده.

پوښتنه: شورویانو په افغانستان کي د جنګي کلونو په اوج کي د نن ورځي د امریکایي عسکرو په پرتله دوه چنده عسکر لرل. اوس نو، ستاسو په نظر ایا امریکایان باید افغانستان ته نور عسکر ولیږلي او کنه؟

رسلان: تاسو کولای سئ چي خپل حضور پراخ او غښتلی کړی، مګر سوال دا دی چي څه شی به بدل کړئ؟ زما نظر دا دی چي تاسو دري شیانو ته ضرورت لرئ. لمړی، مرکزي دولت ایجاد کړئ. یوه داسي منلي او تکړه اداره نصب کړئ چي د اداري فساد او اجتماعي مسایلو چاره وکړي. دوهم، په افغانستان کي باید یوه منظمه او جنګي مسلح قوه جوړه سي. او یو داسي اقتصاد چي د افغانانو سره مرسته وکړي. که چیري تاسو هغه هېواد ته ۲۰۰۰۰۰ نور اضافه عسکر هم واستوئ، ورځ به ستاسو سي او ستاسو امر به چلیږي. خو شپه به د طالبانو وي، په تیارو کي به هغوی حکومت کوي.

پوښتنه: داسي برېښي چي امریکا د محافظه کاره مذهبي مخالفانو د پرله پسو حملو په مقابل کي یو بد او فاسد حکومت تقویه کوي. تاسو ددې تجربې سره پوره اشنایي لرئ. تاسو د امریکایي قومندانانو لپاره چي همدا اوس په جبهه کي دي څه سلا مشوره لرئ؟


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

رسلان: هر څه چي وکړئ، بیا هم له طالبانو څخه خلاصېدل نلرئ. تاسو مجبوره یاست چي د طالبانو سره خبرو ته کښېنئ او یوه روغه جوړه ور سره وکړئ. طالبانو ته باید په دولتي ارگانونو کي ځای ورکړه سي. هغوی باید په مذاکراتو کي دخیل وي. تاسو باید د هغوی سره گډ او موافق ټکي پیدا کړئ.

پوښتنه: نو تاسي عقیده لري چي امریکا باید د اعتدالي او نرمو طالبانو سره خبري وکړي؟

رسلان: یقیناً. دوی باید همدا کار وکړي. تاسو پوهېږئ چي تاسو د یوې مفکورې سره مخامخ یاست. کله چي یوه ایډیا او نظریه موجوده وي، تاسو مجبوره یاست چي د هغې د مقابلې او چارې لپاره جدي فکر او سوچ وکړئ. همدا، د شوروي اتحاد د سقوط او ټوټې ټوټې کېدو باعث سو. شوروي د چا بمونو ماته نه کړه، بلکي شوروي د خصوصي مالکیت مفکورې او د تولیدي وسایلو د شخصي کېدو نظرې دړي وړي کړه. په بل عبارت، د دولتي او گډ مالکیت مفکوره ماته سوه.

پوښتنه:په اوسني شرایطو کي، ستاسو په نظر به په افغانستان کي د امریکایي عسکرو برى څرنگه وي؟ د څرنگه شرایطو سره سم به امریکا وکړای سي چي له افغانستان څخه خپلي پوځي قواوي راوباسي؟

رسلان: زه به یې داسي تشریح کړم. اوه کاله ډېر وخت دی. موږ په کال ۱۹۸۵ کي د خپلو قواوو د راایسلو خبري پیل کړې، مانا دا چي پوره شپږ کاله وروسته له اشغال څخه. په کال ۱۹۸۶ کي، موږ ځیني عسکر را وایستل. مگر موږ په افغانستان کي د حکومت سره مرسته کوله. کله چي موږ هلته وو، د افغان پوځ لږ و ډېر جنگ ته چمتو وو. په اردو کي داسي جنرالان، افسران، او مامورین وه چي په شوروي اتحاد کي یې درس او تحصیل کړی وو.

په هغه وخت کي، نجیب الله جمهوررییس وو. هغه او زموږ ځینو مامورینو همدا مفکوره درلوده. هغوی د ملي روغي جوړي نظریه را میدان ته کړه. کله چي زموږ عسکر په کال ۱۹۸۹ کي را ووتل، دوه یا درې کاله نجیب الله زموږ د عسکرو په نشته والي کي هم ځان ارام او مصون احساسوه.

پوښتنه: ستاسو نظر د حامد کرزي په باب څه دی؟

زه هغه نه پېژنم. مگر زه په یوه شي پوهېږم. هغه دا چي یو ناکامه جمهوررییس دی. که چیري د هغه ساتنه مخصوص امریکایي عسکرکوي، نو بیا تاسو خپله پوهېږئ چي په عامه خلکو کي ددغه شان یو جمهوررییس په ارتباط نظر څرنگه وي؟

ایا تاسو ته یو داسي وخت او یا حادثه در په یادېږي چي تاسو ته د لمړی ځل لپاره دا په ډاگه سوه چي نور نو په افغانستان کي شوروي اتحاد جنگ بایلي، او یا دا چي پرته له وتلو څخه بله هیڅ چاره نسته؟ هغه کم وخت او څه حادثه وه؟

رسلان: کله چي موږ افغانستان ته په ۱۹۷۹ کي داخل سوو، خلکو څه نا څه زموږ تود هرکلی وکړ. پوره یو کال وروسته، ٤۰ فیصدو افغانانو زموږ څخه کرکه کوله. پنځه کاله وروسته، ٦۰ فیصدو خلکو زموږ څخه کرله کوله. او په کال ۱۹۸۹ کي چي موږ خپل ټول عسکر له افغانستان څخه را وایستل قریب ۹۰ فیصدو افغانانو زموږ څخه کرکه درلوده. نو بنا، موږ پدې پوه سوو چي موږ د پرگنو او ولسونو سره مخامخ یو.

په افغانستان کي، زموږ سیاسي واکمنانو اشتباه و کړه. نظامي اصل امر کوي چي عملیات باید وسي، مځکي باید لاندي سي، او بالاخره قدرت بېرته ملکي کسانو ته وسپارل سي.

پوښتنه: د شوروي د اشغال په دروان کي، څه د پا سه یو میلون افغانان او څوارلس زره روسي عسکر ووژل سول. د دغه جنگ نتیجه یوه اوږده کورنۍ جگړه او بیا د طالبانو عروج دی. ایا شخصا ته خپله ددي جگړې په باب پښېماني لري او کنه؟


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

رسلان: هو. له هر لحاظه، له انساني او بشري لحاظه، له پوځي لحاظه، زه پخپلو کارونو باندي ډېر متاثره او پښېمانه يم.

پوښتنه: ايا يو بې ثباته افغانستان د روسيي لپاره يو ستراتيژيک خطر نه دی؟ روسيه پخپله د پخوانی شوروي د پلو په اړدو کي د اسلاميستانو سره لاس او ګريوان ده.

رسلان: يقينا. لمړی به همدا ګزګ مرکزي اسيا ته را رسيږي، او بيا به له مرکزي اسيا څخه جنوبي روسيي ته راوغزيږي. همدا سبب دی چي روسي فدراسيون مجبوره دی چي هلته فعاله ونډه ولري، په تېره بيا، په اقتصادي او نورو ساحو کي.

پوښتنه: ستاسو په نظر ولي د افغانستان په باب په روسي مطبوعاتو کي بحث او رپوټونه لږ او محدود دي؟ عامه روسان د افغانستان د شرايطو په اړه څه فکر کوي؟

رسلان: موږ خپلو ستونزو لاندي کړي يو. موږ په ققفاز کي مشکلات لرو. موږ پخپل اقتصاد کي ستونزي لرو. نن ورځ، موږ د شوروي اتحاد د زماني مدني ټولنه او جامعه نلرو. نن سبا، هره کورنی د رزق او روزي د پيدا کولو په غم ګرفتاره ده. حتی زموږ فدرالي حکومت هم د افغانستان لپاره کمه خاصه ستراتيژي او پلان نلري.


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de